رحمه الله

# د امام ابوحنیفه

# نصیحتونه

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

لیکوال:
مولانا محمد عاشق الهي بلندشهري رحمه الله
ژباړن: یوسف ظریفي

# د امام ابو حنيفه رحمه الله نصيحتونه

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځاریږ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

لیکوال: مولانا محمد عاشق الهی بلندشهري رحمه الله
ژباړن: یوسف ظریفي

بسم الله الرحمن الرحيم


## کتاب ځانګړنې:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د امام ابو حنيفه رحمه الله نصيحتونه |
| ليکوال | : | مولانا محمد عاشق الهی بلندشهري رحمه الله |
| ژباړن | : | يوسف ظريفي |
| کمپوز / ډيزاين | : | ثناءالله ځواب |
| خپرندوی | : | ګودر خپرندويه ټولنه |
| چاپ کال | : | ۱۴۰۴ لمريز |
| د چاپ وار | : | دويم |
| د چاپ شمېر | : | ۲۰۰۰ ټوکه |



د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي.



ګودر کتاب پلورنځی، لانديني پوړ، اسحاق زی مارکيټ، بزازی څلور لارې، جلال آباد ـ meenagoodar@gamail.,com

## ډالۍ

**ګرانې مور او ګران پلار جان ته!**

**چې تل یې مینه راکړې او د سمې لارې لارښوونه یې راته کړې.**

**ي. ظریفي**

د اکتاب (امام ابو حنیفه رحمه الله نصیحتونه)
د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو
وروڼو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد
ساتئ ..!

## زما خبرې...

دوه ويناوې هغه څه دي، چې نن يې له برکته تاسې درانه لوستونکي د دغه کتاب د لوستو برخمن ياست.

لومړی، د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم هغه مبارکه وينا، چې ويلي يې دي: (غوره له انسانانو څخه هغه څوک دی، چې نورو ه يې خير ورسېږي).

او دويمه د يو عالم دا وينا، چې وايي: (غوره ملګری مې هغه څوک دی، چې داسې کتاب راته ډالۍ کړي، چې ما نه وي لوستی).

شاوخوا درې کاله کېږي، همدغو دوو خبرو دې ته هڅولی يم، چې داسې يو کتاب وژباړم، چې د ډېرو خلکو ته يې خير ورسېږي، که څه هم دا د ګودر کتاب خپرنځي په ځانګړې توګه د قاري صيب قدرت الله تائب او ګران صادق الله صادق خاصه لورينه او پر ما باور و، چې دا کتاب يې ماته د ژباړې لپاره راکړ؛ خو ما ورته ځکه ملا وتړله، چې مطالعه کوونکي به يې تر ډېره د ديني زده کړو مينه وال او د ديني پوهان وي او دوی به د همدغو لارو خپلولو په ټولنه کې هم د خلکو او هم ځان په چال - چلند کې تغير رامنځته کړي.

نور نو تاسې او د (امام ابو حنيفه رحمه الله نصيحتونه) ترمنځ ځنډ نه جوړېږم، تاسې يې مطالعې ته رابولم؛ خو په دعاګانو کې درته د ځان درياديدو هيلمند يم.

ستاسې کشر

يوسف ظريفي

د کليد راډيو دفتر- جلال اباد

# لیکلړ


| موضوع | مخ |
|---|---|
| سریزه ........................................................ | ٦ |
| د امام ابوحنیفه رحمه الله قاضي ابو یوسف رحمه الله ته نصیحت .... | ١٠ |
| یوسف بن خالد سمتي بصري رحمه الله ته د امام ابوحنیفه رحمه .... | ٣٣ |
| د قضاء د ادابو په اړه خپل زده کوونکي نوح بن ابي مریم .......... | ٤٠ |
| خپلو ټولو زده کوونکو ته! د امام ابوحنیفه رحمه الله نصیحتونه | ٤٤ |



راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې ،
کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ،
ارام او سوکاله ژوند ولري ..!

په درنښت ا آریان پښتو کتابتون

## سریزه

**د ښیونکي او مهربان الله تعالی په نوم!**

**له دې وړاندې مې هم د امام الاعظم ابو حنیفه رحمه الله د هغه وصیت ژباړه کړې وه، چې هغه مبارک د خپل نومیالي زده کوونکي یوسف بن خالد سمتي بصري رحمه الله ته کړی و.**
**دا ژباړه اصلي وصیت سره یو ځای د (البلاغ) په نوم کراچۍ کې خپرېدونکې میاشتنۍ خپرونه کې خپره شوې وه او هغه شیخ الحدیث مولانا محمد ذکریا صیب په خپله دایره کې یو یو حرف ویلی او ډېره یې خوښه شوې وه. بیا یې په خپل لګښت د هغه د ۵ زرو ګڼو د چاپ سینه ډبولې وه او چاپ یې کړه.**
**له دې وروسته پرېکړه وشوه، چې د امام ابو حنیفه رحمه الله دویمه وصیت نامه چاپ شي. تر څېړونو وروسته مې د (الاشباه والنظایر) په اخیر کې هغه وصیت نامه لاسته راغله، چې امام اعظم رحمه الله خپل زده کوونکي قاضي القضات امام ابو یوسف رحمه الله ته یې ویلې وه.**
**تر لوستلو وروسته راته یو څه نیمګړې ښکاره شوه او د اصلي نسخې په لټه کې شوم، همدا نسخه مې په (مناقب الامام الاعظم) او (حسن**

التقاضی) کې هم وموندہ، دریواړه مې مخې ته کېښـودې، یـوه کاملـه نسخه مې ترې تیاره کړه او بیا مې وژباړله.

بنده سره په فکر کې وه، چې امام اعظم رحمه الله خپل زوی حماد بن ابي حنیفه رحمه الله ته یو وصیتنامه لیکلې ده.

د هغې په لټه شوم او د الله تعالی شکر دی، چې هغه نسخه مې هم تـر ګوتو شوه، په (مناقب الامام الاعظم) کې مې هـم د قـاضي ابـو عصـمه نوح بن ابي مریم مروزي رحمه الله په نامه د امام صـاحب یـوه نسـخه لیدلې وه، هغه د قضا اړوند وه او داسې یـوه نصـیحتنامه مـې هـم تـر سترګو شوې وه، چې هغه امام اعظم رحمه الله خپلو نورو زده کوونکـو ته ویلې وه.

ترتیب مې په دې شکل ورکړی دی:

لومړی) د امام ابو یوسف رحمه الله په نامه نصیحتونه.

دویم) د یوسف بن خالد سمتي رحمه الله په نامه نصیحتونه.

درېیم) د حماد بن ابي حنیفه رحمه الله په نامه نصیحتونه.

څلوم) د ابو عصمه نوح ابن ابي مریم رحمه الله په نامه نصیحتونه.

او پینځم) د زده کوونکو رحمهم الله په نامه نصیحتونه.

امام ابو یوسف رحمه الله د امام ابو حنیفه رحمه الله تر ټولو مشهور زده کوونکی دی. په فقه او احادیثو کې یې زیاتې زده کړې دي.

امام احمد بن حنبل رحمـه الله د امـام ابـو یوسـف رحمـه الله لـه زده کوونکو څخه دی. هغه نه یوازې دا چې قاضي و، بلکې قاضي القضـات هم پاتې شـوی دی. د عبـاسي خلافـت د مهـدي، هـادې او هـارون الدشید په وختونو کې یې له (۱٦٦ هجري تر ۱۸۲ هجري کال) پـورې

چې د هغه د مړينې نېټه هم ده، د قاضي او قـاضي القضـات پـه توگـه دنده ترسره کړې ده.

*****

يوسف بن خالد سمتي رحمه الله دا هم د امام اعظم رحمه الله لـه زده کوونکو څخه و، دی د بصرې اوسېدونکی و او له امام ابو حنيفه رحمـه الله څخه د علم زده کړې په خاطر کوفې ته تللی و. کله چې د زده کړو له بشپړېدو وروسته خپل وطن ته ستنېدو؛ نو امام اعظم رحمه الله ورته وويل: په تگ کې بيړه مه کوه، تاته بـه زه د توبشـې پـه ډول ځينـې نصيحتونه وکړم، بيا يې ورته مناسب وخت پيدا او دغه نصـيحتونه يـې ورته وليکل، چې وروسته به په کتاب کې راشي.

*****

حماد بن ابي حنيفه رحمه الله د امام اعظم رحمه الله يوازينی او نازولی زوی و. ده له خپل پلار مبارک څخه د فقې علم حاصل کړ، چـې ډېـر ستر زاهد او پرهېزگاره انسان و، يو وخت د کوفې قاضي هم پاتې شوی دی.

*****

نوح بن ابي مريم رحمه الله د امام اعظم رحمه الله له مشهور شـاگردانو يو و، دی د مرو و. ابو عصمه د هغه اسم کنيه و او د (الجامع) پـه لقـب هم يادېده له امام صيب څخه يـې ډېـر کلـه د قضـايي مسـايلو پـه اړه پوښتنه کوله.

یوه ورځ ورته امام اعظم رحمه الله وفرمایل، چې ته بـه خامخـا قـاضي کېږې او بیا هماغه شان وشول، کله چې خپل وطن ته ستون شـو، نـو سمدواره مقرر شو.

*****

پینځم وصیت چې له امام ابو یوسف رحمه الله څخه روایـت دی، دی وایي یوه ورځ باران ورېده: زه، داود طایي، عافیـه اودي، قاسـم بـن معن مسعودي، حفص بن غیاث نخعي، وکیع بن الجـراح، مالـك بـن مغول او زفر بن عذیل رحمهم الله د امام صاحب خواته ورغلو.
امام ابوحنیفه رحمه الله موږ ته متوجې شو، ویې ویل: (أنتُم مَسَارُّ قَلبِی الخ) دا وصیت به د کتاب په پای کې ولولئ.
له الله تعالی غواړم، چې زما دا هڅه په خپل دربار کې قبوله کړي او لا دې د دا ډول چارو د ترسره کېدا توانایي راکړي.

وأنا العبد المحتاج الی رحمة الله
محمد عاشق الهي بلندشهري
المدینه المنوره – صفر ۱۳۹۹ هـ ق

# د امام ابوحنيفه رحمه الله
# قاضي ابو يوسف رحمه الله ته نصيحت

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلى على رسوله الكريم

حُکِي عن أبي حنيفه رحمه الله أنه أوصى الى أبي يوسف رحمه الله بعد أن ظهر له منه الرشيد و حسن السيرة والاقبال على العلم، فقال:

ويل کېږي، کله چې امام ابوحنيفه رحمه الله د خپل زده کوونکي (امام ابو يوسف رحمه الله) په اړه داسې احساس کړه، چې الله تعالى هغه ته هدايت او د پرمختګ چانس ورکړی، د ده اخلاق او سيرت غوره دي او الله تعالى پرې ځانګړې پوهه لورولې؛ نو هغه ته يې د ځانګړو نصيحتونو پرېکړه وکړه.

۱: يا يعقوبُ! وقرالسطان وعظم منزلته، و اياک والکذب بين يديه.

ای يعقوبه! ( د امام ابو يوسف رحمه الله اصلي نوم و)! د پاچا قدر او عزت کوه، مرتبه يې لوړه ګڼه او پر وړاندې يې درواغ مه وايه.

۲: ولا تدخل (والدخول) عليه في کل وقت وفي کل حال مالم يدُعُک لجاجة، فاينک اذا (ان) اکثرت الاختلاف اليه تهاون بک واستخف، و صغرت منزلتک فی (عنده) عينه، فکن منه کما انت من النار. تنفعُ بها و تَتباعدُ عنها، ولا تَدنُ منها فانک تحترق و تتأذى منها، فان السطان لا يرى لأحد ما يرى لنفسه.

پرته له دې، چې کومه علمي اړتیا وي، په نورو حالاتو او وختونو کې مه ورځه، پاچا ته له ورتگه پرهېز وکړه، ځکه که ته هره ورځ د پاچا خواته تگ راتگ وکړې؛ نو پر تا د یو عادي سړي فکر وکړي، سپک به شې او ستا حیثیت به د هغه پر وړاندې هېڅ ارزښت ونه لري.

په همدې بنسټ له پاچا ځان داسې وساته، له څنگه یې چې له اوره ساتې، که اور ته ورنېږدې شوې ښایي وسوځېږې او زیان دوررسوي، (نو له پاچا سره هم راشه درشه جوړول، د تکلیف رسولو امکان لري).

له دې نصیحت څخه موخه هم دا ده، چې پاچا یوازې د خپلې گټې په فکر کې وي، که هغه یو چاته د تکلیف رسولو په بدل کې هم وي.

زیاته راشه درشه له یوې خوا پاچا ته گرانه تمامېږي او له بلې خوا شاید داسې کوم لفظ له خولې بهر شي، چې بیا یې پاچا په اړه سزا ورکولو ته هم حاضرېږي.

:۳

د پاچا په مخکې ډېرې خبرې مه کوه، ځکه هغه به ستا خبرې زده کړي، بیا به خپلو درباریانو ته وایي، چې زه له دې ډېر پوهېږم.

انسان نیمگړی دی، ښایي ته خبرو کې غلط شې، درباریان به دې غلطي ونیسي او بیا به یې په ذهن کې سپک شې.

:۴

کله چې د پاچا ته ځې؛ نو د خپل قدر په اړه معلومات پیدا کړه او د نورو د قدر په اړه هم ځان وپوهوه.

:۵

په داسې حالاتو کې چې د پاچا په دربار کې پوهان ناست وي او ته يې نه پېژنې مه ورځه.
ښايي د هغوی علم له تا زيات وي او داسې کومه خبره رامنځته شي، چې له امله يې د هغوی علم له تا زيات شي؛ نو بيا به ته له ستونزو سره مخ شې او د پاچا له نظره به ولوېږې.

:٦

که چېرې درته پاچا د کوم دولتي کار د ترسراوي امر وکړ، تر هغه وخته يې مه ترسره کوه، تر هغې چې نه يې پوهېدلی، چې هغه ستا له دې مسلک او مذهب څخه راضي دی.
مثلاً ستا له مسلک، مذهب، علم او قضايي پرېکړو، تر څو تاته د نورو د مسلک پر پرېکړو او تګلاره د تګ اړتيا پيدا نه شي.

:٧

د پاچا له ملګرو او درباريانو سره ملګرتيا مه پيدا کوه؛ بلکې هره ښه اړيکه له پاچا سره خپله نېږدې اړيکه ده.

:٨

د پاچا له درباريانو لرې اوسه، چې عزت او مرتبه دې هماغه شان په خپل حالت کې پاتې شي.

:٩

د عامو خلکو پر وړاندې يوازې هغه خبرې کوه، د څه په اړه يې چې له تا پوښتلي وي (د عامو خلکو يې که څوک کومه پوښتنه کوي، د اړتيا سره سم لنډ شرعي ځواب ورکړه او نور غلی شه).

:۱۰

د دنیوي معاملو او سوداګری په اړه د عامو خلکو په مخکې خبرې مه کوه، پرته له هغو چارو کومې چې د علمي دایرې پورې تړلې وي، تر څو پوه نه شې، چې ته له شتو (مال دولت) سره مینه لرې او ورسره رغبت کوې، که عامو خلکو ته دا فکر پیدا شو، ستا په اړه به بد ګومانه شي او په زړه کې فکر کې به یې دا خیالونه پیدا شي، چې ته رشوت اخیستلو ته مایله شوی یې او د هغې په اړه خبرو کولو ته تیار شوی یې.

:۱۱

د عامو خلکو پر وړاندې مه خانده او مه موسکی کېږه.

:۱۲

بازارونو ته ډېر مه ځه.

:۱۳

د هغو هلکانو سره چې بلاغت (ځوانی) ته نېږدې وي، هغې سره خبرې مه کوه، دغه خلک فتنې نه ډک وي. له وړو هلکانو سره خبرې او د هغوې پر سر لاس راښکلو باندې کومه ستونزه نه رامنځته کېږي.

:۱۴

د ټولنې هغه کسان، چې عمر خوړلي وي، په لاره کې ورسره نېږدې مه ځه، ځکه که ته ترې وروسته ځې، نو ستا د علم بې عزتي ده او که ترې مخکې ځې ښايي حیثیت دې له لاسه ورکړې ( د زړو خلکو عزت نه کول د نبوي ارشاداتو خلاف عمل دی).

نبي کریم (صلی علیه وسلم) فرمایي: هغه شخص چې زموږ د مشرانو عزت نه کوي او پر وړو رحم نه کوي، زموږ له ډلې نه دی.

:۱۵

په لارو کې مه کېنه، که تاته د دې اړتیا وي، ته د کور نه بهر چېرته باید کېنې، نو جومات کې کېنه.

:۱۶

دوکانونو کې مه کېنه.

:۱۷

جومات او بازار کې خوارک مه کوه.

:۱۸

د لارو پر سره له خوراک پلورونکو خوراک مه کوه او هغه کسان، چې اوبه ورکوي، اوبه یې مه څښه. ( د لارې پر سر د هر قشر- خاوندان خوراک کوي او که ته یې هم وخورې؛ نو د اهل علم حیثیت ته به زیان ورسوې او هغوی چې خلکو ته اوبه ورکوي، دا هم ټولو ته په یو شان اوبه ورکوي؛ نو د عالم او بې علمه ترمنځ به څه توپیر پاتې نه شي).

:۱۹

د دیباج جامو، زېوراتو او ورېښمو له انواعو څخه استفاده مه کوه؛ ځکه دا شیان په زړه کې تکبر (لویي) پیدا کوي.

:۲۰

په کور کې له مېرمنې سره د بستر پرمهال ډېرې خبرې مه کوه، یوازې همدومره غږېږه، چې ورته اړتیا وي.

:۲۱

مېرمنه دې ډېره مه ښکلوه او زيات لاس مه وراچوه.

:۲۲

ښځې ته دې مه نېږدې کېږه، مگر وروسته له هغې چې د الله تعالی ذکر وکړې او له هغه د خير طلب وکړې.

:۲۳

د ښځې پر وړاندې دې د نورو ښځو صفتونه مه کوه؛ ځکه که ته داسې کار وکړې، هغه به هم تاسره پرته له کومې ويرې خبرې پيل کړي او امکان شته، چې د پردو سړو صفت هم وکړي، دا به بيا هغه څه وي، چې ته يې ښايي ونه شې زغملی.

:۲۴

تر څومره چې امکان وي، له هغه چا سره واده مه کوه، چې وړاندې يې بل چا سره نکاح کړې وي، د هغه (لومړني مېړه) مور او پلار يا يې له هغه څخه پيدا شوی زوی موجود وي، ځکه بيا د دغې اړيکې کوم خوند نه وي. (دا په دې مانا ده، چې ته ورسره د زړه مينه نه شې کولی، د هغوی تګ راتګ ستا او د دغې ښځې ترمنځ اړيکه کې فاصله پيدا کوي.)

:۲۵

څومره چې امکان ولري، ته د خپلې ښځې مور او پلار کره ډېر تګ راتګ مه کوه. (پرته له شرعي اړتياوو).

:۲٦

هېڅکله په دې مه راضي کېږه، چې خسرګنۍ کره دې لـه ښـځې سره پاتې شې، که داسې وکړې، هغه خلك به له تا ستا مال دولت واخلي او ستا په اړه به ډېر غلط فکرونه پيدا کړي او هـم بـه د مـور او پـلار سره اوسېدونکې لور ستا ښځه) د هغوی په مخ کې ستا د خوښې پرته کارونه ترسره او اړيکه به مو ترينګلې شي.

:۲۷

د پخوانيو زامنو او لورګانو لرونکې ښځې سره د نکاح نيت هم ونه کړې؛ ځکه هغه د خپلو اولادونو لپاره د سپما په فکر کې وي، ستا د مـال پـه غ لا به هم اسره ونه کړي او پرهغوی به يې مصرف کړې، دا ځکه هغـې ته خپل اولادونه د بل هر چا پر وړاندې ډېر عزيز او غـوره وي، ښـايي ستا پر وړاندې هم.

:۲۸

دوه ښځې (بنې) په يوه کور کې مه يوځای کوه.

:۲۹

تر هغه وخته نکاح مه کوه، تر څو چې ډاډمن شوی نه يې، چې تـه د هغې ټولې اړتياوې پوره کولی شې.

:۳۰

لومړی زده کړه وکړه، له هغه وروسته حلال مال دولت پيـدا کـړه، بيـا واده وکړه، ځکه که د زده کړو پرمهال د پيسو ګټلو په فکر کې شې؛ نـو له زده کړو به پاتې شې، د مال ګټلو پرمهال ښايي تا ناوړه کړنو ته مـخ کړې او ته به د علم له نعمته پاتې شې. دغې خبرې ته هـم بايـد ځـير

شي، چې د زده کړو پرمهال دې ښځه په فکر کې ونه لوېږي؛ ځکه بیا به د اولادونو د نفقې، ستونزو د حل او نورو په فکر کې شې او یوازې به د همدغو مسوولیتونو ترسره کولو چاره پر مخ وړي او بس. ته به د همدغو اړتیاوو د پوره کولو په چاره بوخت شې او د مال او علم (دواړو) له حاصلولو به محروم شې.

:۳۱

په داسې وخت کې زده کړو ته مخه کړه، چې ستا د ځوانۍ پیل وي؛ ځکه دغه وخت به دې فکر له نورو کارونو او نورو سوچونو فارغ وي، له دېط وروسته د پیسو ګټلو په فکر کې شه او کله چې دې یو څه سرمایه لاسته راوړه، واده وکړه. له واده کولو وړاندې د پیسو ګټلو او له پیسو ګټلو وړاندې د علم زده کړې راز په دې کې دی، چې واده نه وروسته اولاد پیدا کېږي، په علم او مال کې زړه نه تړل کېږي؛ خو اولاد دی، چې ورسره د انسان زړه تړل کېږي او بیا ترې هر څه پاتې کېږي.

:۳۲

د الله تعالی له وېرې امانت داري غوره کړه او د ټولو عامو او خاصو سره خیر ښېګڼه غوره کړه.

:۳۳

داسې کار مه کوه، چې نورو ته یې زیان اوړي او د هغوی شخصیت له سپکاوۍ سره مخ کېږي. د خلکو قدر او عزت کوه او پرته له دې، چې څوک ستا له ناستې - ولاړې، راشه درشې او خبرو اترو ګټه پورته کوي، خلکو سره ډېره ناسته ولاړه، راشه درشه او خبرې اترې مه کوه،

ځکه ښايي هغوی چې د علم زده کړې موخه لري، علم به زده کوي؛ خو هغوی چې دا هدف ونه لري، پرته ستا د وخت له ځایه کولو نور څه ګټه نه اخلي او نه در رسوي.

:۳۴

له عوامو سره د زده کړې په خبرو کې د ژبې له ډېر بلاغته کار مه اخله؛ ځکه دا خلک به ستا تقليد پيل کړي او د خبرو علم (علم کلام) کې له مصروفه شي، دغه کار به ورته بيا ډېر مضر وي.

:۳۵

که څوک ندرته مسئلې د حل په موخه د فتوا غوښتنه وکړي؛ نو يوازې ورته د سوال ځواب ورکړه، له ځواب سره کومه بله خبره مه غبرګوه؛ ځکه دا به ورته په ځواب کې مشکل پيدا کړي.

:۳٦

که څېرې لس کاله هم پرته له خوراکه او پرته له کوم معاش څخه وي، هم د علم له ښوونې مخ مه اړوه؛ ځکه که تا علم ته شا کړه، علم به تاته شاه کړي.

الله تعالى هم په قران کريم کې فرمايي:

(وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكاً) (۱۲۴) سورة طه.

يانې: او هر هغه څوک، چې زما له ذکر څخه اعتراض وکړي، پرته له شکه به پرې تنګي راشي.

:۳۷

که څوک در څخه فقه زده کوي؛ نو پوره توجه ورته کوه او دوی له خپل ځان سره داسې ساته، لکه: هر يو چې يې ستا اولاد وي، تر څو چې ستا دغه کړنه، هغه ته د علمي کچې د لوړوالي سبب شي.

:۳۸

که چېرې عوام او يا هم بازاري خلک درسره شخړه کوي، ته ورسره شخړه مه کوه، که داسې وکړې، ستا عزت او منزلت به له منځه لاړ شي.

:۳۹

د حق د بيان پرمهال د هېچا د جاه او جلال پروا مه کوه، که هغه د وخت بادشاه هم وي.

:۴۰

که له تا پرته نور خلک هم په عبادت مشغول وي، خپل نفس دې په دومره ډېره عبادت مصروف کړه، چې له هغوی سره دې توپير وشي.
هر کله چې دې له نورو په عبادت کې خپل نفس لوړ نه کړ، له عبادت نه دې مه راضي کېږه؛ ګڼه به يې دا وي، چې چېرې عوام تا په هماغه اندازه عبارت ووينې، چې هغوی يې هم کوي؛ نو بيا به يې نظر کې کوم ځای پيدا نه کړې او که ستا ډېر عبادت ته د هغوی پام شي؛ نو په خپل ذهن کې به تاته په لوړ مقام قايل شي.
بل به هغوی ته په زړه کې دا وګرځي، چې کومه ګه تا له علم پورته کړې، ( د عبادت لار دې غوره کړې) هغوی له يې عملی څخه پورته کړې؛ نو هغوی به په دې نظر وي، چې ستا د علم ګټه څه شوه؟

:۴۱

که چېرې ته داسې ښار ته ورننوتې، چې هلته عالمان موجـود و، تـه یې د خپل منصف او کار مه انتخابوه او یوازې د یـو عـادي انسـان پـه توګه ژوند کوه، هغه شان چې نور عام وګړي، ژوند کوي.

چې هغوی داسې فکر ونه کړي، چې ته غواړې د هغوی ځـای خپـل کړې.

که هغوی سره دا حیال پیدا شو، ټول به ستا په وړاندې راپـاڅېږي او ستا په مذهب به تور پورې کړي، عوام به هم ستا په وړاندې راپورتـه شي، هغوی به تاته په بد نظر ګوري او ته به پرته کـه کومـوې ګټـې او خامخا تورن شې.

:۴۲

که خلك درنه غوښتنه هم وکړي، خو بیا هم مه د اهل علمو (عالمـانو) په شتون کې فتوا مه ورکوه او هم مناظرې ته مه حاضرېږه.

:۴۳

پرته د قران او حدیث له دلیل څخه د هغوی په مـخ کـې خـبرې مـه کوه.

:۴۴

د هغوی مشرانو ته پېغور او بد مه وایه، ځکه هغوی به هم ورته غبرګون ښکاري، په قران کریم کې هم راغلي:

(وَلاَتَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللهِ فَيَسُبُّواْ اللهَ عَدْواً بِغَـيْرِ عَلْـمٍ (۱۰۸) سورة الانعام.

(( او دغه خلك هغه الله ته پرېږده، د چا چې عبادت كـوې او هغـوى ته كنځل مه كوه؛ ځكه دوى به له حده واوړي او د الله تعالى په شـان كې به هم گستاخي وكړي.))

:۴۵

له خلكو سره په اختياط چلند كوه. ن(ډېر پام كوه، چې څوك دوكـه در نه كړي.)

:۴٦

په يوازېتوب كې له الله تعالى سره داسې اړيكه كې اوسه، لكه د خلكو په مخ كې چې ورسره خپله اړيكه ښكاره كـوې، د خپـل ذات او شـان سره سم د هغه (جل شانه) حضور ته حاضرېږه.

د علم تقاضا هم تر هغه وخته نه پوره كېږي، تر هغـې چـې ظـاهر او باطن دواړه ورته جوړ نه وي.

:۴۷

كه پاچا درته د داسې دندې ترسره كولو وړانديز وكـړي، چـې سـتا لـه شان سره مناسبه وي، تر هغه وخته يې قبولـه نـه كـړې، چـې پـه دې پوهېدلى نه يې، چې ستا پرته يې بل داسې چاتـه (بـد اخـلاق او بـې علم) يې سپاري، چې له امله يې خلكو ته زيان رسېږي، چې بيا بـه د دغه كار ذمه وار ته يې او د دغې خبرې يقين هم وكړه، چې هغه دغه دنده تاته ستا د علميت له وجې سپاري. (كه چېرې هغه سـتا علـم تـه قايل نه وي، بيا دغه منثب مه منه).

:۴۸

په علمي مناظرو کې چې شرعاً جواز ولري، په وېرې او ډار مه وړاندې کېږي (خبرې مه کوه)؛ ځکه په دې سره به له زړه راوتونکې خبره کې خنډ رامنځته شي او ژبه به له ویلو معذوره شي.

:۴۹

له زیاتې خندا پرهېز وکړه، ځکه دا زړه مړ کوي.

:۵۰

له ښځو سره ډېرې خبرې مه کوه او له هغوی سره له ډېرې ناستې ولاړې هم پرهېز وکړه؛ ځکه له دې سره هم زړه مړ کېږي.

:۵۱

په خپل چال چلند کې سکون او اطمنان اختیار کړه او په خپلو کارونو کې بېړه مه کوه.

:۵۲

هغه څوک چې له وروسته درپسې غږ کوي، ورته مه متوجې کېږه؛ ځکه د شا لخوا څناورو پسې غږ کېږي.

:۵۳

کله چې خبرې کوې، زیاتې چغې مه وهه او خپل غږ هم ډېر مه لوړوه.

:۵۴

خپل نفس په سکون کې وساته، د بدن غړو ته دې لړ لړ حرکت ورکوه، تر څو په ټولنه کې دې عزت په خپل ځای پاتې شي.

:۵۵

د خلکو په مخ کې د الله تعالی ذکر ډېر کوه، چې خلک در څخه ذکر زده کړي، په دې مانا چې ستا د ذکر طرز او طریقه وګوري، ستا ذکر ته متوجې شي او هغوی هم ذکر وکړي.

:۵۶

له لمانځه وروسته د ځان لپاره ځینې درودونه او وظیفې وټاکه او د قرآن کریم تلاوت هم په کې کوه، د الله تعالی ذکر کوه او د هغوی نعمتونو او منزلت چې تاته یې درکړی شکر کوه.

:۵۷

په هره میاشت کې داسې ورځې وټاکه، چې ته په کې روژه ونیسې، چې نور خلک هم په دغه کار کې ستا اقتدا وکړي، په خپل عبادت دومره مه راضي کېږه، په څومره چې عام وګړي، هم د ځان لپاره بسنه کوي.

:۵۸

د خپل نفس ساتنه کوه، چې د ګناه او لعنتي کارونو کې مشغول نه شې، د نورو نګراني هم کوه، ترڅو هغوی ستا د دنیا او اخرت کارونه او مصروفیتونو ته په کتو، ستا له علم څخه ګټه پورته کړي او داسې نه شي، چې ستا خواته په راتګ یې خدای مه کړه وخت ضایع شي.

:۵۹

په خپله په بازارونو کې سودا مه اخله (بازار ته خپله د سودا لپاره مه ځه) او د دغه کار لپاره داسې شخص وټاکه، چې ستا چارې په سمه توګه پر مخ وړلی شي او ستا پرې اعتماد وي.

:٦٠

هره هغه دنده، چې تاته در سپارل کېږي (البته دنيوي) تر ډېره پرې مه مطمين کېږه او داسې مه ارزوه، چې ستا ژوند او کارونه ښه روان دي، له نفس او شيطان څخه په وېره کې اوسه او د خپلو کارونو ارزونه کوه؛ ځکه الله تعالى د ټولو دنيوي امورو په اړه پوښتنه کوونکى دى.

٦١: بې رېرې غلام مه اخله.

:٦٢

که څه هم پاچا تا ځان ته نېږدې گڼي، خو بيا هم خلکو ته داسې مه ورښايه، چې تا پاچا ته ډېر نېږدې يې؛ ځکه خلك به درته بيا خپل مشکلات راوړي، تر څو پاچا ته يې وړاندې کړې.

که بيا ته د هغوى مشکلات پاچا ته وړاندې کړې، نو پاچا به تا ذليل کړي او که د هغوى مشکلات پاچا ته ونه رسي، هغوى ته به ته دروغجن معرفي شې.

:٦٣

خپل نفس دې، لکه د نورو انسانانو په څېر وگڼه؛ خو له علم څخه دې، د خپلې ذمه وارۍ مطابق گټه پورته کړه.

:٦٤

په غلطو کارونو کې د عامو وگړو خوښه مه کوه؛ خو که سم وي، بيا پروا نه کوي.

:٦٥

که درته معلوم وي، چې فلانى سړى ښه نه دى، بيا يې هم بدي مه بيانوه، د هغه په بدن کې د ښو کارونو لټه وکړه، هغه بيان کړه؛ خو که

څوک د دین له لحاظه عیب ولري؛ نو بیا یې خلکو ته په اړه معلومات ورکړه، چې فلانی بې دینه یا بې عقیدې دی، تر څو نور خلک هم ورسره کینه وکړي او له شر څخه یې خلاص شي.

په یو حدیث شریف کې هم دې ته اشاره شوې، هغه څوک چې دیني عیب ولریو افشاء یې کړئ، چې خلک ترې ځان وژغوري.

:٦٦

که چېرې د داسې شخص په اړه، چې په ټولنه کې د لوړ شان او اعتبار څښتن وي او ته یې په اړه داسې معلومات پیدا کړې، چې بې دینه او یا بې عقیدې دی؛ خلکو ته یې افشاء کړه او د شان، پیسو او منزلت غم یې مه کوه.

ستا په دې کار سره به الله تعالی له خوښ او په تا به ځانګړی رحم وکړي.

ترڅنګ به یې د نورو خلکو په زړونو کې وېره پیدا او ستا په سیمه او دین کې به څوک د بدعت جرئت ونه کړي، په دا ډول خلکو عوام مسلط کړه، چې په دیني مسایلو کې ستا طرفداری وکړي.

:٦٧

که چېرته پاچا داسې کوم عمل کوي، چې هغه د شرعي علم څخه خلاف کړنه وي، نو هغه منع کړه؛ خو الفاظ باید داسې وي، چې هغه ته باور ورکړې، چې ته پرې تنقید نه کوې؛ بلکې دا کار شرعاً جایز نه دی او ته مشوره ورکوې.

ګټه به یې دا وي، که هغه پوهېږي، چې ته پرې تنقید کوې، شاید تکلیف درته ورسوي.

مثلاً ورته  ووایه ، چې پاچا صیب زه  ستاسې په  کارونو کـې دا یـو کـار داسې
ګورم، چې هغه ماته د شرعیت خلاف ښکاري او که چېرته یې مخنیوی وشي؛ نو شرعیت به  مو تر پښو لاندې کړی نه وي، خـو دا خـبره بایـد ډېره تکرار ځکه نه  شي، چې درباریان به یې واوري او ستا په خلاف به ورته خبرې وکړي او ستا د پاچا ترمنځ به اختلاف رامنځته کړي.
یاکه چېرته په  پاچا کې داسې کوم عمل ګورې، نو کورته ورشه، خپلـه زړه خوږي دې ورسره شریکه کړه، چې زه ستاسو په  دغه عمل کـې د شرعیت مخالفت ګورم، که یې نه منله مناظره ورسره وکړه، ترڅـو هغـه خپل دلایل او ه خپل دلایل وړاندې او پـه پـای کـې د هغـه شرعیـت خلاف عمل اصلاح شي.

:٦٨

مرګ تل په  یاد لره، استادانو او هغو کسانو ته، چې تا ترې د دین کومه مسله یاده کړې وي، تل ورته  دعا کوه.

:٦٩

تل د قرآن کریم تلاوت کوه.

:٧٠

د قبرونو، مشایخو او مقدس ځایونو زیات کوه.

:٧١

که عوام خلک درسره په  مقدس ځایونو او یا هم په جوماتو نو کـې مـه شي او تا ه د خپلو داسې خوبونو حال ووایي، چې محمـد (صلی الله علیه  وسلم) یا کوم نېک خلک یې په کې لیدلی وي، شـک پـرې مـه

کوه، هغه که کومه غلطه خبره یې په کې کوله؛ نو هغه یې ورته اصلاح کوه.
:۷۲
هغه کسان، چې بدعت کوي، ډېره ناسته ولاړه ورسره مه کوه، پرته له دې، چې سمه لار ورته وروښایې.
:۷۳
د لعنت کلمه او نور لعنتي الفاظ مه کاروه.
:۷۴
کله چې په جومات کې اذان واورې؛ نو د لمانځه لپاره تیاری پیل کړه، تر هغه چې عوام له تا وړاندې جومات ته ورشي.
:۷۵
خپل کور د پاچا په ګاونډ کې مه جوړوه.
:۷٦
که په خپل ګاونډي کې کوم عیب وینې، پرې پرده اچوه، ځکه دا تا سره امانت دی، هغه ته دغه خبره وکړه او نور څوک پرې مه خبروه.
:۷۷
که هر څوک درنه د یو څه په اړه مشوره غواړي؛ نو داسې مشوره ورکوه، چې ته پرې باوري یې، چې دا مشوره به یې الله تعالی ته نیږدې کړي (داسې مشوره، چې ستا په وړاندې بېخې، سمه وي).
زما دا نصحیت قبول کړه الله تعالی به تا ته د دنیا او اخرت دواړو کامیابي درکړي.

:۷۸

له پخیلۍ لرې تښته، ځکه بخیل انسان د چا نه خوښوي او خلک ورسره کینه کوي.

:۷۹

لالچي کېږه مه، دروغ هم مه وایه او داسې خبرې مه کوه، چې خلک په فکر کې واچوې، بلکې د ژوند چارې دې په سمه توګه ترسره کوه.

:۸۰

تل سپینې جامې اغونده.

:۸۱

تل خپل زړه غني ساته، د خلکو پر وړاندې ځان داسې وښایه، چې ته حریص نه یې، د دنیا (مال او شتمنۍ) په فکر کې لا نه یې، بلکې ځان دې ورته ډېر غني او شتمن ورښایه او بېوسي دې مه ښکاره کوه، که مجبور هم وې.

:۸۲

ځان دې همتناک جوړ کړه؛ ځکه هغه څوک چې همت یې کمزوری وي، مرتبه یې هم کمزورې وي، په دې مانا چې دغه شخص لوړدې مرتبې ته نه شي رسېدلی.

:۸۳

کله چې په لاره کې روان یې، یو خوا بل خوا مه ګوره، بلکې ښکته ګوره.

:۸۴

کله چې سقاوې ته ځې، نو د عامو خلکو په ځای او د هغوی په شان چارې مه ترسره کوه، کله چې هغوی پیسې ورکوي، ته ورسره په پیسو کې برابری مه کوه، بلکې له هغوی ډېرې پیسې ورکوه، په دې سره به هغوی تاته په لوړ شان او احترم قایل شي.

:۸۵

د جامو ګنډلو یا نورو اړتیا وړ شیانو د برابرولو پرمهال خپله کسبه کارو ته مه ورځه، معاملات خپله مه ترسره کوه او بل څوک ورلېږه، داسې څوک چې ستا پرې باور وي او دغه چارې سمې ترسره کولی شي.

:۸۶

له خلکو هېڅ ( د یوې ذرې قدرې هم) ټیکس یا باج مه اخله.

:۸۷

د اجناسو او مالونو وزن خپله مه کوه، بلکې داسې څوک، چې ستا باوري کس وي، هغه ته دا چاره سپاره.

:۸۸

دنیا سپکه وګڼه، ځکه دا د علم د خاوندانو پر وړاندې سپکه ده، ځکه الله تعالی ته نېږدېوالی عالمانو ته تر هر څه غوره او نورې چارې ورته سپکې دي.

:۸۹

خپلې ستونزې او شخصي کارونه دې کوم بل چاته وسپاره، تر څو چې ته علم ته وزګار شې او ټوله توجو دې همدې علم ته وي او دې سره به ستا عزت هم خوندي او بلکې لوړ شي.

:۹۰

له لیونیانو سره خبرې مه کوه او داسې خلکو سره هم مه ګړېږه، چې مناظره کوي؛ خو په اصولو یې نه پوهېږي او د هغې خلاف خبرې کوي، داسې خلکو سره هم خبرې مه کوه، چې د هغه موخه علم حاصلول نه بلکې شته او مقام وي او دغه موضوعات د خلکو په منځ کې په دې خاطر ذکر کوي، چې منزلت یې لوړ شي، د دغه مقصد شاید دا وي، چې تا په یوه خبره کې بند کړي او د خلکو په مخ کې دې شرمنده کړي.

:۹۱

که چېرې ته داسې ځای ته لاړې، چې د هغه خلکو شان له تا لوړ وي؛ نو ته تر هغه وخته خپل شان مه لوړوه، ترڅو چې هغوی تا ته لوړه مرتبه در نه کړي، په دې سره به تاته کوم اذیت پېښ نه شي.

:۹۲

که په جومات کې لمانځه ته لاړ شې او هلته د جمع لپاره بل کس وجود ولري، تر هغه چې تاته خپله ونه وایي مه مخکې کېږه.

:۹۳

له سحر او غرمې پرته سقاوې (حمام) ته مه ورځه.

:۹۴

د عوامو تفریح ځایونو ته مه ځه، هغو ځایونو ته چې د پاچا لخوا په کې ظلم کېږي مه ورځه، هو که داسې وي، چې ته دا یقین ولرې، چې که ته ورته د ظلم نه کولو نصیحت وکړې او هغه یې ومني او دغه چاره بنده کړي، نو بیا ورشه؛ خو که دا یقین نه وي بیا مه ورځه، ځکه

t.me/AryanPashtoLibrary

که هغه داسې کار کوي، چې حلال نه وي او ستا پرې وس نه رسېږي او ورته ولاړ يې؛ نو خلک به داسې فکر وکړي، چې دا کار روا دی او بيا به يې هغوی هم ترسره کوي او دليل به يې هم دا وي، چې پاچا دغه چاره ترسره کوله، ته يې تر څنګ ولاړ وې.

د دې کار پايله به بيا دا شي، چې ته به د يوې خرابې کړنې لپاره زمينه برابره کړې.

:۹۶

په مجلس کې له غوسې پرهېز وکړه.

:۹۷

د عوامو پر وړاندې نصيحت مه کوه، ځکه د هغوې په منځ کې د خبرو لپاره درواغو ته هم اړتيا پيدا کېږي.

:۹۸

که له کوم عالم سره د هغه مجلس ته د ورتګ وعده وکړې؛ نو وګوره که د فقې مجلس وي ورشه او کومې خبرې، چې ستا د علم سره سمې وي، وړاندې يې بيان کړه او که د شخص بحث او خبرې داسې علمي نه وي، نو بيا مه ورځه او وعده ورسره هم مه کوه، ځکه خلک که تا هلته ووينې؛ نو داسې فکر به وکړي، چې دا سړی عالم دی او شخصيت به يې ورسره د خلکو په نېز لوړ شي. که داسې شخص وي، چې هغه عالم وي او د فتوې ورکولو صلاحت ولري؛ نو خلکو ته يې صفت کوه او په مجالسو کې ورسره کېنه اوکه دا صلاحيت ونلري، نو بيا ورسره ناستی مه کوه، چې ستا په وړاندې درس ووايي؛ بلکې يو

ملګری دې ورته پرېږده، ترڅو د هغه د علم په اړه معلوم ترلاسه او تاته يې ووايي.

:۹۹

د بدعتیانو او داسې خلکو په مجالسو کې برخه مه اخله، چې ستا په حضور باندې هغه د خپل وعظ او وینا مجلس ته پیاوړتیا ورکوي او خلکو کې ځانته شهرت حاصلول غواړي، د هغه څنګ ته د خپلې سیمې داسې کسان واستوه، چې ټولې خبرې يې تاته وکړي او خپل يو شاګرد هم ورسره کړه، چې ټولې خبرې رښتينې وکړي.

:۱۰۰

د نکاح ګانو تړل ( د نکاح خطبې لوستلو) چاره د خپلې سیمې يو خطيب ته وسپاره، خپله دغه کار مه ترسره کوه، د جنازې او اخترونو لمونځونه هم همدوی ته پرېږده، چې هغوی جمعې ورکړي.

ما په خپلو نېکو دعاګانو کې مه هېروه، زما دا نصیحت قبول کړه، ځکه دا داسې وصیت دی، چې په کې ستا او د ټول مسلمان امت خیر دی.

# يوسف بن خالد سمتي بصري رحمه الله ته د امام ابوحنيفه رحمه الله نصيحتونه

کله چې يوسف بن خالد سمتي رحمه الله زده کړې بشپړې کړې او بيرته خپلې سيمې (بصرې) ته يې د تګ اراده وکړه؛ نو د امام ابوحنيفه رحمه الله څنګ ته ورغی او ترې اجازه يې وغوښته.

امام صاحب رحمه الله ورته وفرمايل:

تګ ته بيړه مه کوه، لږ انتظار وکړه، زه به درته داسې نصيحتونه وکړم، چې پر مرسته به يې ته له خلکو سره د چال چلند طريقه زده کړې، اهل علم (پوه خلک) به وپېژنې، خپل نفس به دې د ژوند له ادابو سره برابره کړې، له خپل رعيت سره پر مناسب کردار به پوه شې، له عام او خاص سره د معاملو په اړه به معلومات لاسته راوړې او هم به د خپل علم حفاظت وکړې؛ څکه دا داسې خبرې دي، چې ستا د ژوند په لار کې به مشال شي.

امام صيب د خبرو لړۍ يې وغځوله:

ښه پوه شه! که ته له خلکو سره ځان برابروې، که څه هم هغوی به وړاندې ستا د مور او پلار يا ورور او خور په څېر وي؛ خو بيا به هم هغوی ستا دښمنان شي.

که چېرته ته خلکو سره ښه راشه درشه ولرې، د هغوی احترام او خدمت وکړې؛ نو که هغوی له وړاندې تاسره بلد هم نه وي، هغوی به دې لکه د مور او پلار داسې خواږه او نږدې شي.

**له دې وروسته يې وويل:**

تر هغه وخته، چې زه يو مناسب وخت پيدا او ستا لپاره نصيحتونه وليکم، صبر وکړه او مه ځه؛ ځکه زه به ډېر وخت پيدا کړم او ستا لپاره به په پوره سوچ او فکر ليکل وکړم او د دغو ليکلو په عملي کولو به ته د دين او دنيا دواړو چارو کې بريالی شې او په زړه کې به ماته دعا وکړې.

خالد سمتي وايي، کله چې ټاکلې موده پوره شوه؛ نو زه يې خپلې خواته په تنهايۍ کې وغوښتلم او راته يې وويل:

زه اوس په ازاد زړه تاته هغه خبرې کولی شم، چې د کومو په اړه چې ما ته له تګ منع کړی وې.

بيا يې زياته کړه: هغه سيمه اوس زما د سترګو په وړاندې ده، چې ته به پرې بصرې ته داخلېږې او زما مخالفين به په کې تاته متوجه کېږي او دغه وخت به ته د خپل علم په غرور هغوی ته د مقابلې لپاره چمتو شې او د علم په برکت به د هغوی پر وړاندې لوړ لوړ وغړېږې، پايله به يې دا رواځي، چې ته به د هغوی له ناستې پاستې او ملګرتيبا محروم شې، ته به د هغوی مخالف شې او هغوی به ستا، ته به هغوی سره اړيکې پرې کړې او هغوی تاسره، ته به هغوی په خرابو الفاظو يادوې او هغوی به تا، ته به هغوی ته ګمراهان وايې او هغوی به ستا لاره غلطه بولي او تاته به د بدعتي خطاب کوي، پايله به دا شي چې زما او ستا دواړو شخصيت به عيبناک شي او اخر به ته دغو خلکو ته ميدان

پرېږدې او تېښتې ته به مجبور شې؛ مګر دا کومه سمه لار نه ده، چې انسان دومره د خلکو په نظر کې سپک شي، چې بیا ورته نه عام او نه خاص ځای ورکړي.

د هوښیارۍ او پوهې خبره خو دا ده، چې انسان د روغې جوړې خبرې وکړي او خلکو سره راشه درشه ولري؛ ځکه دا عقل مند فکر نه دی، چې له داسې خلکو سره ناسته ولاړه ورسره اړینه وي او ترسره نه شي.

له دې وروسته وویل: کله چې ته بصرې ته ننوځې، نو خلک به ستا استقبال وکړي، ستا لیدو ته به راشي او ستا حق به وپېژني، نو دا خبرې په غوږ کې کېږده:

- په دغه وخت کې ته د هر شخص قدر د هغه د علمیت او شخصیت له مخې وکړه.
- د شریفو خلکو عزت وکړه.
- د عالمانو احترام وکړه.
- زړو خلکو ته ودرېږه.
- له عوامو سره نږدې شه.
- د بدکردارو خلکو زړه وساته.
- د ښو خلکو سره ناسته ولاړه اختیار کړه.
- د چارواکو (بادشاه، وزیر، قاضي...) اړوند داسې عمل مه کوه، چې هغوی ته عادي شخص وبلل شي.
- څوک له ځانه ټیټ مه ګڼه.

- په مېړانه کې سستوالی مه کوه.
- خپل شخصیت په چا مه راښکاره کوه.
- پره له ازمايښت چاته د دوستۍ لاس مه ورکوه.
- له بدکرداره شخص سره ملګرتيا مه کوه.
- هغه څه چې ستا له ظاهري ښې سره ښه نه ښکاري، مینه ورسره مه کوه.
- له احمقانو سره ډېر مه نېږدې کېږه.
- صبر، حوصله، ښه خوی، د سينې پراخوالی د ژوند مقاصد وګڼه.
- نوې جامې اغونده.
- د سورلۍ څناور (حيوان) دې ښه ساته.
- عطر ډېر کاروه.
- خپلو شخصي کارونو ته يو وخت ځانګړی کړه او په يوازې ځان يې ترسره کړه.
- د خپلو خادمانو او رعت احوال اخله، ادب ورته ښايه او هم يې کارونه سموه؛ خو زياته غوسه پرې مه کوه، ځکه بيا يې تاثيره کېږي، دا راز په خپل لاس ورته سزا مه ورکوه، له دې سره به دې وقار (عزت) ته ضرر ورسېږي.
- لمونځونه دې په خپل وخت ادا کوه او خوراکي توکي دې مصرفوه (خپله يې خوره، اولادونو، خپلوانو، زده کوونکو او نورو ته يې هم ورکوه)؛ ځکه بخيل هېڅکله د مشرۍ لايق نه دی.

- داسې یوه چاره باید ترسره کړې، چې پر مرسته یې د خلکو له احواله خبرېږې، ګټه به یې دا وي، که هغوی مشکل لري؛ نو ته به ورته ژر ځان رسوې او که دې د ځان په اړه د خلکو کومه ښه رایه ترلاسه کړه، پرې ډېر ټینګار کوه او لا یې په عمل کې پلي کوه.
- که څوک دې ترڅنګ راځي یا هم نه؛ خو ته د دواړو ډلو خلکو څنګ ته ورځه.
- که څوک درسره ښه عمل کوي یا بد؛ خو ته یې د هر څه ځواب په ښه عمل ورکوه.
- ښښنه کوه.
- په نېکیو امر او له ناوړه کارونو ځان ساته او نور هم منع کوه، د بدلې په فکر کې مه کېږه او نېکي کوه.
- د حقونو په پلي کولو کې بیړه کوه.
- که ملګري، خپلوان یا هم نور بلد کسان ناجوړه کېږي، خپله یې هم پوښتنې ته ورځه او خپل استازی دې هم د هغه پوښتنې ته ورلېږه.
- او که له ډلې یې کوم یو ستا څخه نا درکه کېږي؛ نو پلټنه یې کوه.
- که څوک درسره بد چلند کوي، ورسره اړیکه مه شلوه او چې څوک دې خواته راځي ښه قدر او احترام یې کوه.
- که څوک دې په بد خوی خواته راشي، ښښنه ورته کوه.

- که څوک دې په اړه بد نظر لري، ته يې په اړه ښه خبرې کوه او خوبيانې يې بيانوه.
- که له ډلې يې څـوک مړ شي او څه مال دولت يا کوم امانت يې تاسره وي؛ نو خپل خپلوانو ته يې وروسپاره.
- که څوک خوښي لمانځي ورته مبارکي ورکوه او که چاته څه غم يا مصيبت پېښ شوی وي، ورسره غمشريکي کوه.
- او که چا ته کوم زيان رسېدلی وي، د خپل زړه د دردېدو اظهار ورته وکړه.
- که څوک درسره کار لري او يا کوم مشکل لري او له تا مرسته غواړي ورسره لاړ شه.
- که څوک درته کوم فرياد وړاندې کوي، ښه سم يې واوره او که درنه مرسته غواړي مرسته ورسره وکړه.
- تر څومره چې کولی شې، له خلکو سره د دوستۍ اظهار وکړه.
- سلام په ښه شان سره وايه، که څه هم بد اخلاقو خلکو ته وي.
- که چا سره کوم مجلس ته لاړ شې، يا په کوم مجلس کې ته حاضره وې او کومې مسلې په اړه خلکو بحث کوه او ستا د مسلک خلاف کومه خبره يې کوله، صبر وکړه او ډېر ژر دې خپل نظر مه بيانوه.

بيا يې ووېل:

- که چېرته له تا پوښتنه وشي؛ نو لومړی د هغه مسلک پر بنسټ ځواب ورکړه، چې هغه خلک ورسره بلد وي (هغوی چې په کوم

مذهب وي)، له هغه وروسته ورته ووایه، چې په دې اړه یو بل قوم هم شته، چې د هغه دلیل دا دی یا دا دی:

- که ستا دغه مسلک ومني؛ نو ستا مرتبه او عزت به داوړه ډېر شي او هغه ته ه به راتلونکي کې ضمیر اجازه ورنه کړي، چې ستا پر وړاندې کومه بې ادبي وکړي.
- هر څوک، چې ستا خواته راځي، د علم یا پوهې داسې یوه خبره ورته کوه، چې هغه پرې فکر کوي (یوه مسئله ورته وایه) او د علم په وړو وړو خبرو خلک رانیسي (دا کار دوه ډوله کوه:

لومړی هغوی په وړو وړو مسئلو رانیسه پوښتنه ترې کوه او دویم دا چې په وړو وړو خبرو؛ خو په تول پوره خبرو هغوی د خپل ځان طرفداره کوه)، په دغه برخه کې ډېرې نازکې خبرې کاروه په دې مانا چې خبرې باید د ذوق او علاقې وړ وي.

- خلک په کنټرول کې ساته؛ مگر کله کله ورسره خوش طبیعي هم کوه، هغوی سره خبرې هم کوه، دا کارونه به د هغوی په زړه کې تاسره مینه ډېره کړي او په دې سره به ستا علم هم همېشنی شي.
- د خلکو بې ځایه خبرو ته وخت مه ورکوه، د هغوی د ستونزو د حل په لټه کې اوسه، له نرمښت ورسره کار اخله او د هغوی د ملامتیا او یا تېروتنې په اړه داسې حس هغه ته ورکوه، چې وانگېري ته پرې بېخې خبر هم نه یې.

# د قضاء د ادابو په اړه خپل زده کوونکي نوح بن ابي مريم رحمه الله ته د امام اعظم رحمه الله نصیحتونه

نوح بن ابي مريم رحمه الله وايي، چې ما له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه د احاديثو مفاهيم زده كول او هغه په ښه شان سره بيانول([1])، ما به هم ترې ډېرې باريكې پوښتنې كولې او زما پوښتنې به اكثره د قضاء د احكامو په اړه وې.

يو ورځ راته امام صيب رحمه الله د وړانديني په توګه وويل:

نوحه! ته به د قضاء دروازه وټكوې (ته به قاضي شې).

كله چې زه له زده كړو وروسته خپلې سيمې (مرو) ته راستون شوم، له لږ مودې وروسته قاضي شوم.

امام اعظم (ابوحنيفه) رحمه الله په دغه وخت كې ژوندى و، ما وره يو خط وليكه، ورته مې په كې د خپلې دندې يادونه وكړه او ورته مې دا هم وليكل چې له مجبورۍ قاضي شوى يم.

امام اعظم رحمه الله راته د ليك په ځواب كې وليكل، چې ستا خط راته رارسېدلى او څه، چې دې ليكلي ومي لوستل، ستا په غاړه كې د مسووليت ډېر لوى پړى لوېدلى دى، هغه پړى چې له غاړې لرې كول

---

[1]- د احاديثو د شرح بيان د امام اعظم صيب خانګړى هنر او فن و او دغه علم يا فن ته (فقه فى الدين ويل كېږي).

او یا ساتلو څخه یې لوی لوی خلک عاجز شوي دي او په اوس وخت کې ستا حال داسې دی، لکه څوک چې ډوبیږي، نو په دې اساس له دغې ستونزې د ځان خلاصي په موخه کومه لاره ولټوه، د الله تعالی ویره ضرور په زړه کې ولره؛ ځکه دغه چاره د ټولو کارونو په ښه والي کې مرسته کوي او په اخرت کې د بریالیتوب راز له ځانه سره لري، له هر مصیبته د خلاصي لار ده او په همدې وسیله به ته ښه پایلې ته ورسیږې.

الله تعالی دې موږ ته په هر کار کې د صداقت او رښتینولۍ هدایت وکړي او موږ ته دې د هغو کارونو ترسراوي توفیق راکړي، چې هغه پرې خوشحالیږي، بیشکه هغه اوریدونکی او نږدې دی.

ښه په یاد ولره چې:

- د پریکړو فصلونه داسې دي، چې په هغه باندې د لوی علم لرونکي اشخاص پوهیږي، چې هغه کتابونه د اصول علم، قران کریم، احادیث او د صحابه کرامه (رضي الله عنهم) قولونه دي.
- خپله هم ښه صاحب بصیرت (ښه پریکړه کوونکی) او د پریکړې نافذوونکی اوسیږه.
- که په قرانکریم، احادیثو او یا اجماع کې د یوې مسئلې په اړه ښه، واضح او ظاهره (ښکاره) پریکړه شتون ولري، پرې عمل وکړه، که نه وي هم مثله پریکړه یې پیدا او عملي یې کړه؛ خو په اړه یې د قران کریم، احادیثو او اجماع شهادت(ثبوت) اړینه خبره ده.
- دغه راز په دې برخه کې له اهل علم (پوهو خلکو سره) مشوره کوه، کیدای شي په دغو خلکو کې داسې څوک وي، چې د هغې

موضوع په اړه چې ته ترې عاجز شوی یې، هغوی یې په اړه معلومات ولري.

- کله چې دې په وړاندې مدعي او مدعاليه دواړه حاضر وو، د بېوزله او زورور، شريف او وضيع (بې حيثيت او کم آبرو) خلکو ترمنځ توپير مه کوه، د هغوی د ناستې ځای، د خبرو وخت او ورته توجو کولو کې برابری په پام کې ونيسه، داسې کومه تېروتنه مه کوه، چې د لوړ شان څښتن له تانه بې ځايه توقع وکړي، هغه بل شخص سره به هم په زړه کې وسوسه پيدا شي، که ستا پرېکړه (فيصله) په حقه وي؛ نو له کمزوري شخص سره به دا خبره زړه کې وي، چې د هغه بل طرفداری يې وکړ.
- کله چې دواړه خواوې ستا پر وړاندې حاضر شول، ورته وخت ورکړه، دومره وخت، چې هغوی په ښه شان کېني، په قضاء کې د درېدو يا ناستې شرمنده گي يا وېره يې له زړه ووځي، بيا ورسره خبرې پيل کړه، خبرې په نرم انداز، داسې چې هغوی وپوهوې، د هر يوه خبرې يې په ښه غور سره واوره او د بېړې ټينگار پرې مه کوه (داسې مه کوه، چې هغه وارخطا شي او خپلې خبرې نيمگړې او ژر پای ته ورسوي.)
- دواړو ته دومره وخت ورکړه، چې خپلې خبرې په پوره ډول وکړي، هغه چې غوارې بيان يې کړي هو که چېرته کوم يو بې ځايه خبرې کوي، مه يې پرېږده او ورته ووايه چې د دې خبرېط له دې مسئلې سره هېڅ تړاو نشته.
- په زړه تنگوالي، خپگان او غوسه کې پرېکړه مه کوه.

- په داسې وخت کې هم پرېکړه مه کوه، چې تاته د معذرت اړتیا وي (تشناب ته د تګ)، یا وږې یې، یا دې زړه په بل ځای کې بند ي مثلاً : کومه ستونزه درته پېښه شوې وي.
- پرېکړه یوازې داسې مهال وکړه، چې له داسې ستونزو او خبرو دې زړه ډاډه وي، چې ستا پر پرېکړه تاثیر پرېباسي.
- د خپلو ترمنځ د جګړو (شخړو) پرېکړې ژر مه کوه، څو جلسو ته یې راوبله، ممکنه ده، که هغوی په خپل منځ کې روغه وکړي، که په خپلو منځو کې روغه جوړه وکړي، غوره ده، که نه نو بیا یې ترمنځ شرعي فیصله وکړه.
- د چا خلاف پرېکړه مه کوه، تر هغه وخته چې ټول ثبتونه نه وي حاضر شوي، چې دده خلاف دي.
- شاهدانو باندې ډېر ټېنګار مه کوه، مه کومه اشاره ورکوه، د قضاء اړوند چارې کوم خپلوان ته مه سپاره، د قاضیتوب (دندې) په موده کې د چا دعوت مه قبلوه؛ ځکه خلک به در باندې تهمت وتړي، چې په رشوت کې یې ډوډۍ وخوړله.
- په قضاء کې له خپلوانو او ملګرو سره خبرې مه کوه او له الله تعالی څخه وېرې ته له هر څه غوره والی ورکړه، دا ستا د دنیا او اخرت لپاره غوره دي.
- الله تعالی دې تا روغ او جوړ لري او ما او تاته دې غوره مرګ او په اخرت کې لوړ مقام رانصیب کړي.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه سیدنا و سندنا محمد و آله وأصحابه أجمعین.

## خپلو ټولو زده کوونکو ته!
## د امام ابوحنیفه رحمه الله نصیحتونه

**امام ابو یوسف رحمه الله وايي:**

**په یوه باراني ورځ کې مونږ څو ملګري ( د امام اعظم رحمه الله زده کوونکي) د امام صیب ځای ته ورغلو، ما سره داود طایي، عافیه اودي، قاسم بن معن مسعودي، حفص بن عیاث نخعي، وکیع بن الجراح، مالك بن مغول او زفر بن هذیل (رحمهم الله) ملګرتیا کوله.**

**کله چې امام اعظم رحمه الله مونږ ته متوجې شو ویې ویل:**

**تاسې درنو سره زما د زړه خوښی تړلې دي، تاسې ته په کتو کتو مې د زړه رنځ او غم ورکیږي او دا یقیني ده، چې له ما وروسته به تاسې د فقې خدمت کوئ.**

**ما فقه ستاسې لپاره داسې سورلی برابره کړې، چې تیاره زین شوې ده، کمربند هم لري او واګې هم، کله چې غواړئ پرې سورلی وکړئ (د فقې اصول او برخې چې ما تاسې ته وړاندې کړې دي، په دې کې تاسې ته مهارت پیدا شوی دی، چې پر مرسته یې تاسو کولی شئ، د**

ژوند تېولې چارې منظمې کړئ او مسائل مو پرې حل کړئ او ما تاسې ته د علم سره سره د عمل لاره هم ښودلې ده)، تاسې مې په داسې حال کې پرېښودئ، چې خلک به په تاسې پسې وروسته وروسته راوان وي او ستاسې د الفاظو (خبرو) تږي به وي.

د خلکو سرونه به ستاسې پر وړاندې احترامانه ټيټ وي تاسېط هر يو د قاضي جوړېدو حق او صلاحيت لرئ او ستاسې په ډله کې لس کسان داسې دي چې قاضيانو ته احکام ورکولی شي.

دلته امام ابو يوسف ته په خطاب کې وايي:

- زه تاته الله تعالی او ستا هغه لوی علم چې ترلاسه کړی دې دی، واسطه کوم او غوښتنه درڅخه کوم، چې له بادشاه څخه د قضا په برخه کې له پوښتنې ځا وساته.
- که ستاسې هر يوه ته د قاضي د دندې چانس پيدا شو او هغه له خپلې هغې ستونزې (نيمګړتيا) چې الله تعالی ورته پيدا کړې او يوازې دې پرې خبر دی؛ نو قاضي کېدل ورته جايز نه دي او دغه دنده به ورته حلاله نه وي او که يې ظاهر او باطن يو شان وي؛ نو جايز دی، چې قاضي شي.
- که چېرې مجبوراً کوم يو له تاسې اړ شئو چې بايد قاضي شئ، نو د خلکو ترمنځ کومه پرده مه جوړوه، پينځه وخته لمونځ په جماعت سره کوه او په هر لمانځه کې دا غږ کوه، چې که هر چاته څه مشکل وي، نو ماسره دې شريک کړي او کله چې د ماسخوتن لمونځ وکړې، دا غږ درې ځلې وکړه او بيا خپل کور ته لاړ شه.


- که د قضایي دندې پرمهال ناروغ شې، (داسې ناروغ چې په مجلس کې درته ناسته ولاړه ستونزمنه وي)؛ نو څومره ورځې چې ناروغ یې همغومره وخت دې دنده وځنډوه (پیسې له بیت المال څخه مه اخله.)
- که د مسلمانانو مشر (پاچا یا امیر المؤمنین) په بیت المال کې غلول (خیانت) وکړي، یا دظلم پرېکړه وکړي، د هغه فیصله بې ارزښته او باطلېږي او د نافذېدو وړ نه ده او که چېرته امیر المؤمنین کومه گناه وکړي او د هغې گناه په وجه پرې حد واجبېږي؛ نو تر ټولو نېږدې قاضي ته په کار ده، چې حد پرې جاري کړي.

الله تعالی دې پرې موږ او تاسې ته د عمل کولو توفیق راکړي.

امین

پای

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشارئ !
زموږ ټیلگرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون




پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون